# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

## AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com www.afgazad.com

| سیاسی | Political |
| --- | --- |



داحمدشاه وردگ ژباړه:


۱۷ جون ۲۰۱۲

# ناټو په تشو لاسونو دافغانستانه دوتو په درشل کی

یوی سویسی ورځپاڼی دی ته په کتوچی ناټو دافغانستانه دوتلو په درشل کی ده په داسی حال کی چی دخپلو موخو څخه په دی هیواد کی یوی کوچنی موخی ته هم ندی رسیدلی له دی ډڼد نه دوتلو په فکرکی دی او دا په داسی حال کی چی له لسو کلونو پوځی شتون څخه په دی هیوادکی دنورو ناکراریو خبرورکوی.

دسویس د«نویه زوریخه څایتونګ» په خپله یوه څیرنه کی لیکی: دناټو غړو هیوادونو دمی په وروستیوکی په شیکاګو کی په خپله سرمشریزه کی په دی خبره هوکړه وکړه چی د۲۰۱۴کال ترپایه به خپل ځواکونه له افغانستانه وباسی او امنیتی مسؤولیتونه به ددی هیواد ځواکونو اوپولیسوته ورسپاری.

داپریکړه په داسی وخت کی ونیول شوه چی لودیځ پوځیان اوپه کابل کی دچارو شنونکی دغه پریکړه ناسمه اوله واقعبینی لری بولی. داپه دسی حال کی ده چی په افغانستان کی دجګړی سره مخالفین په نوروهیوادو کی ورځ په ورځ ډیریږی او اروپا اوامریکا دژور اقتصادی بحران سره لاس اوګریوان دی، دناټوغړو هیوادونو په دی کنفرانس کی په ډاګه کړه چی دخپلو پوځونو وتلو ته چټکتیا ورکوی. داسی پتیل شوی ده چی دراتلونکی کال په نیمایی که به افغان ځواکونه ټول مسؤولیتونه په غاړه واخلی اوناټو به یواځی دمرستندوی رول لوبوی.

دامریکی جمهور رییس په شیکاګو کی وویل چی دافغانستان جګړه ترکومه چی مونږ پیژنو، په ۲۰۱۴کال کی پای مومی.

په کابل کی یوه ناپییلی؟ څیرنیز مرکز() په خپل وروستی ګزارش کی داسی لیکی چی که چیری لودیځ په بیره دافغانستان له ډڼد څخه پرته له دی چی لازم شرایط ورته برابر شی، دخپلو پوځونو په ایستلو پیل وکړی نو دابه دناټو لپاره د پوره ماتی او دافغانستان دځوان دولت لپاره دمرګ په معنی وی.

دی سویسی ورځپاڼی په دوام سره داسی لیکی: دمی په لومړیوکی امریکا دیوه تړون ترسیوری لاندی چی ددی هیواد دجمهور رییس سره یی لاس لیک کړ، ژمنه وکړه چی د۲۰۱۴ کال وروسته به هم افغانستان یوازی نه پریږدی. ولی ددی ژمنو لپاره یی هیڅ تضمینات ورنکړل اوکه چیری دامریکا په دولت او نورو مرستندویو هیوادونو اقتصادی اوټولنیز فشارونه ډیر شی نو په ډاډ سره ویلای شو چی دمرستو څه درک به هم نه وی.

په کابل کې دسیاسي چارو شنونکي په دې آند دي چې دافغانستان نه دپوځونو ایستل دناتو یوه نه ماتیدونکې پریکړه ده اوکه افغان ځواکونو ته دلیرد پروسه سمه پرمخ ولاړه نشي هم، دغه سازمان خپل پوځونه وباسي. داپه داسې حال کې ده چې که دپوځونو ایستلو په وخت کې دغه ستراتیژۍ( دپوځونوایستلو ستراتیژۍ) په بریالیتوب هم په مخ ولاړه نشي نو ناتو هیڅ بدیل( احتمالي) پریکړه نلري.

داخبره چې له ۲۰۱۴ کال وروسته به افغانستان یوې دګډوډۍ کندې ته ورپریوزي، ددغه هیواد په امنیتي ځواکونو پورې اړه لري. په تیرو لسوکلونو کې دناتو پواسطه دافغان امنیتي ځواکونو روزنه په سمه ونشوه، دچارو دشنونکو په آند افغان امنیتي ځواکونه په هیواد کې دسولې راوستلو اوټیکاو راوستلو ته چمتو ندي.

لیکونکي وړاندې داسې لیکي: دناتو لومړی موخه داوه چې تر۲۰۱۴کاله ټول ۳۵۰ زره افغان ځواکونه پوځي عملیاتو ته اودچارومسؤولیت نیولو ته چمتوکړي. دغه روزنه دکال ۶.۵ میلیارډه ډالره لګښت غواړي چې یوازې ۵۰۰ ملیونه یې دافغان دولت جوولې شي، اونور باید دمرسته کوونکو هیوادونو لخوا ورکړل شي. په ورستیو کې ناټو اعلام کړی چې ۲۳۰ زره تنه افغان پوځ ته بس دي. داپه داسې حال کې ده چې دمګړی ۱۳۰زره بهرني او ۲۷۰زره کورنې پوځونه په ډګر کې شته دي، ولې تراوسه دجګړې ډګرترکنترول لاندې ندی راغلی. یوپه دریوته دپوځونو کمښت تر۲۰۱۴کاله دمخالفو وسلوالو ډیرې کمزورې ته اړدې کوم چې اوس یې درک نه ترسترګو کیږي.

دامریکې ددفاع چارو وزیر په داسې حال کې دوسله والو مخالفینو دکمزورۍ خبره کوي چې افغانان دا خبره نه تاییدوي. دهیوا ډیرې ختیځې اوسویلي برخې اوس هم دطالبانو ترولکې لاندې دي اوآن په شمالي اونوربا امنه سیمو کې هم دطالبانو پوځي عملیات شتون لري. په وروستیو کلونو کې دطالب افراطي ځواکونو دهیواد په کرارو اوحتی کابل کې خپلې موخې په نښه کړي اوخپل پوځي ځواک یې خلکوته وربښولی. په تیرووختونو کې افغان وسله والو مخالیفینو ډیر سرتیري، مامورین اوددولت لوړپوړي چارواکي له منځه وړي، چې په ۲۰۰۱ کال ددوی دراپرځیدو په پرتله دغه وژنې بې سابقه دي.

دامریک دمرکزي اطلاعاتو اداری(توري-ژباړن) چې تل دسیاستوالو په نسبت دافغانستان په هکله دنیوکو نه ډک شرایط وړاندې کوي، دوسله والو دبیا زورموندلو خبرې کړې دي. همدارنګه په افغانستان کې دناتو دمرستندویو ځواکونو(آیساف) بولندي په شیکاګو کې دخبریالانو په وړاندې په زغرده وویل چې په افغانستان کې شرایط زمونږ دادعا برعکس چې بری راپه ګوتو کوي ، روان دي اوپه دې هیواد کې سختو شپو ورځو ته سترګې په لاره یو.

نویه زوریخه ځایتونګ وړاندې داسې لیکي: کله چې په ۲۰۱۲ کال کې دناتودپوځونو دغښتیلي کولو ستراتیژۍ په زړه پورې پایله نه درلوده اوله افغانستانه دپوځونو دایستلو چیغې دغړو هیوادونوپه دننه کې لاپسې جګې شوې نو امریکایانو دکرزي هغه غوښتنو ته چې دطالبانو سره دسولې خبرې پیل شي ، مثبت ځواب ورکړ. البته دغه پریکړه په یوه نامناسبه شیبه کې ترسره شوه. څرنګه ممکنه وه چې دافغانستان جمهوررییس چې دمخالیفینو پروړاندې دډیر کمزورۍ موقف درلودونکی و، دغه افراطي اویاغي ځواکونه دسولې اوجوړجاړي خواته راکش کړي.

امریکې، ملګرو ملتونواو دافغانستان دولت په تیر کال کې څوځو ځله دطالبانو سره دخبرو اعلام وکړ ، ولې هیڅ ډول پرمختګ په دې خبرو کې ترلاسه نشواوټولې دماتې سره مخ شوې.

ددې مطلب په بله برخه کې داسې لیکل شوي: دیوه افغان خبرنګار او شننونکي علي احمد په خبره اوس په افغانستان کې څوک دسولې په راتګ پورې زړونه نه تړي. یوه ډله خلک دطالبانو بیرته راتګ ته ګوري، یوه ډله بیا دکورنیو جګړو دپیل کیدو خبرې کوي اوددار شپې اوورځې سبا کوي. دابنه خبره ده چې ناتو له افغانستانه په شاشي، ولې دغه هیواد به تر ډیرې مودې دشمالي اتلانتیک دټرون مرستو ته اړوي.

ورځپانه وړاندې داسې لیکي: ډیر افغانان راتلونکی ته په ډاراو ویری سره ګوری. دهغی ټولپوښتنی پر بنسټ چی دروان کال داپریل په میاشت کی وشوه، ترنیمایی ډیر پوښتل شوی دیوی کورنی او ورانونکی جګړی وړاندوینه کوی. یوازی یو په څلورمه پوښتل شوی په دی باورو چی د۲۰۱۴ کال وروسته به افغان امنیتی ځواکونه ددی جوګه وی چی امنیتی چاری سمبال کړی.

په افغانستان کی دبشری حقونو یو فعال په کابل کی دیوی ناامنی فضا څخه خبری کوی. ددی ترڅنګ چی په پیل کی دناټو دپوځی عملیاتو ترڅنګ څه ناڅه درناوی ولسواکی اودمشروع حکومت جوړونی ته هم کیده ولی د۲۰۱۰ کال راپه دیخوا دی مسایلو ته هیڅ پام ندی شوی اودلودیځ لپاره یوازینی هیله دیوی نیم بندی ولسوالکی(دموکراسی) ټینګول اوله دغه ډنډ نه دوتلو په لارو چارو لګیادی.

دبشردحقونو دغه فعال زیاتوی چی امریکا او افغان دولت اودهغوی دناټو شریکان په افغانستان کی دیوه ولسی نظام(دموکراتیک نظام) په جوړولو کی پاتی راغلی اودشیکاګو په سرمشریزه کی په ډاګه شوه چی ناټو په افغانستان کی یوکوچنی بری هم ندی ترلاسه کړی.

نوموړی په ناټو دغه نیوکه هم کوی چی دغه سازمان له افغانستان څخه دخپلو پوځونو دایستلو لپاره دوتلو یوه ځانګړی اوږدمهاله کړنلاره(ستراتیژی) نلری.(پای)

**یادداشت:**

هرگاه اهداف غرب و نیروهای اشغالگر را همان بدانیم که آنها خود ادعا می کردند به مانند، مراعات حقوق بشر، رفع ستم از زنان، قطع ید جنگ سالاران، خلع سلاح و نابودی تروریستان، شاید بتوان با نویسندۀ سویسی موافقت نمود و ابراز داشت که اشغالگران و در رأس آنها امپریالیزم جنایت گستر امریکا به اهداف خود نرسیده و با دستان خالی از افغانستان بیرون می شوند.

واما در صورتی که خارج از بهانه ها اهداف غرب را در لشکر کشی به افغانستان تحکیم حاکمیت شان در این کشور، تداوم اشغال، غارت منابع مادی و برخورداری از مواقعیت ستراتیژیک آن بدانیم که همین طور هم است می بینیم که اولاً طرح شعار رفتن امریکا با وجود قرارداد اسارت آوری که با ادارۀ مستعمراتی کابل امضاء نموده و به اساس آن اقامت تجاوزکارانه اش را الی ۲۰۲۴ به اصطلاح "قانونیت" بخشیده است، کاملاً منتفی است ودر ثانی تمام قرار داد های اقتصادئی که جهت غارت منابع زیر زمینی افغانستان منعقد نموده اند، گواه آن است که تبلیغ آن نویسنده، باز هم به شکل دیگری خاک زدن به چشم مردم افغانستان بوده می خواهد به آنها تلقین نماید که گویا غرب شکست خورده است و با دستان خالی افغانستان را ترک می نماید.

ادارۀ پورتال AA-AA